# شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

شنبه | د ذولقعده الحرم ١٠ - ١٤٤٥ل س/ د غويي ٢٩-١٤٠٣ل ل/ د مې ١٨-٢٠٢٤ز/دريم کال / ٩٩ گڼه/ ٤ مخیزه



**د حديث شريف ژباړه:**

درې کسان داسې دي، چې د قيامت په ورځ به الله تعالى نه خبرې ورسره کوي، نه به د رحمت په نظر ورته گوري او نه به ئې له گناهونو پاک او معافوي؛ بلکې د دوی له پاره به دردناک عذاب وي. راوي زياتوي، چې دا خبره رسول صلى الله عليه وسلم درې واره تکرار کړه. حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي: ما عرض وکړ دا څوک دي يا رسول الله صلى الله عليه وسلم، چې تباه او تاوانيان سول؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ١ـ هغه څوک دي، چې لنگ يا پرتوگ ئې کښته وي، ٢ـ بل دا چې احسان کوي. ٣ـ دا چې د خپل مال خرڅولو له پاره په درواغو قسمونه خوري.

[صحيح مسلم باب بيان غلظ تحريم اسبال الازار [ص: ٧١ ج: ١]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سر مقاله

### نقش متخصصین اقتصادی برای بهبود وضعیت جامعه و تأثیرات آن در آینده

افغانستان کشور است که بیشترین نیروی جوان را دارا بوده و نقش بسزایی را برای بهبود و بهتر ساختن وضعیت اقتصادی و رفاه اجتماعی و فرهنگی در راستای تأمین نیاز مندی های اقتصادی و حقوقی و از بین بردن چالشها و مشکلات فراوانی که جامعه به آن مواجه بوده اند، با ابتکار و همکاری متخصصین اقتصادی کاهش یافته و زمینه برای تدوین پالیسی های اقتصادی و طرح های پیشنهادی جهت تقویت پایه های اساسی اقتصادی و زیربنایی و بهبود وضعیت نظام سیاسی کشور، به عنوان نیروی بالقوه در یک جامعه عمل نموده. این نیروی ورزیده می تواند در آینده سیاسی و اجتماعی تحولات بزرگ را بحیث یک رهنمود ملی سرلوحه اقدامات عملی و جدی خود قرار داده، شاخصه های حکومت داری خوب را در محدوده جغرفیایی این کشور ترسیم نموده و جهت تحکیم اقتدار سیاسی آمارت اسلامی افغانستان، ترقی و پیشرفت یک جامعه و تأثیرات کلی آن را پایه گذاری نموده و به ارمغان بیاورد.
وزارت مالیه بحیث اداره مسئول برای پذیرش متخصصین اقتصادی جهت تأمین و توسعه فعالیت انکشافی و زیربنایی به هدف حمایت از متخصصین ورزیده جهت جلب و جذب آن ها، فرصت های شغلی را جهت گسترش و چشمگیری فعالیت های انکشافی مسئول امور اقتصادی دانسته، اشتراک و استخدام آنها را بنیه اساسی در بخش های مختلف امور اقتصادی، پلان گذاری، طرح ریزی چشم های عایداتی، تحلیل وضعیت اقتصادی جامعه، مدیریت قوی پلان های انکشافی، فعالیت های بنیادی و اساسی بر محوریت نخبگان اقتصادی الزام آور دانسته است.
اهمیت متخصصین در هر جامعه میتواند سرنوشت ساز باشد. هر قدر موجودیت و میزان مشارکت اقتصاددانان گسترده نشان داده شود، باورمندی های جامعه به جانب امارت اسلامی افغانستان پررنگ شده و به همان اندازه، اعتبار و جایگاه بیشتری در جامعه افغانستان پیدا خواهند کرد و در تعین سرنوشت سیاسی کشور نیز تثبیت جایگاه مؤثر خواهند داشت.
حمایت از تخصص در واقع حمایت از روند کلی همکاری های اقتصادی و سیاسی در عرصه های مختلف جامعه برای آگاهی دهی حضور نقش آفرینی و تسجیل آن در حکومت امارت اسلامی افغانستان می باشد و میتواند نقش متخصصین را برای برنامه ریزی کلان اقتصادی برجسته ساخته، حضور پررنگ آنها باعث تلاش در جهت برجسته سازی سر نوشت کشور و جامعه تخصصگرا در سطح ملی و بین المللی تثبیت جایگاه نموده، با ارائه از طریق طرح های کلی اقتصادی و استراتیژی های انکشافی جدید و طرح های اقتصادی موثر برای رشد و ترقی کشور پلان گذاری نمود.
در نتجیه میتوان گفت، نیری جوان و متخصص به عنوان ستون فقرات یک جامعه، ذخیره بالقوه آینده، نیروی فعال و گنج دست نخورده ملی یک کشور به حساب می آید، این نیروی مؤثر در واقع سرمایه حقیقی هر ملت و کشور به حساب آمده و بدون نیرو متخصص نمی توان پیشرفت و انکشاف فعالیت های اقتصادی را بدون موجودیت آن تصور نمود. از اینرو متخصصین اقتصادی نقش پررنگ را در زمینه های ذیل دارا بوده و چرخش فعالیت های اقتصادی و انکشافی را مدیریت می نمایند:

١. ایجاد شغل آفرینی برای کسب و کارهای جدید و تقویت رشد اقتصادی.
٢. تقویت زیربنا های اقتصادی با ارائه طرح های جامع.
٣. ابتکار مهارت های فنی در امور آموزش های بنیادی و مسلکی برای توسعه فعالیت های انکشافی جامعه.
٤. تقویت نیروی کاری و پرانرژی برای بهتر ساختن جامعه.

به خاطر نجات کشور و مردم باید از نیروی متخصص و آگاه و با احساس استفاده نموده و در عرصهٔ پیشرفت فعالیت های انکشافی و اقتصادی برای بهبود وضعیت جامعه افغانستان بزرگترین امید را در کشور رقم زد.

**با احترام**
**اداره**

# د تعرفې کمېټې د ځينو توکو د تعرفو په تړاو مهمې پرېکړې وکړې

د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر حاجي ادريس په مشرۍ په روان (۱۴۰۳) مالي کال کې، د تعرفې کمېټې لومړنۍ ناسته د ياد معينيت د غونډو په تالار کې ترسره سوه. د دغې ناستې په پيل کې د تعرفې رياست د مسؤلينو له لوري، د لاندې ذکر سوو توکو په تړاو د سوداگرو او صنعتکارانو غوښتنې او هر اړخيز تحليل وړاندې سو، چې په اړه ئې د تعرفې کمېټې غړو د يادو اقلامو پر تعرفې هر اړخيز تخنيکي بحث وکړ او له کورني توليد څخه د ملاتړ، د سوداگرۍ د پراختيا او دولتي عوايدو د ډېرولو اصل ته په کتو ئې لاندې پرېکړې وکړې، چې د ماليې د وزير له منظورۍ وروسته به د تعرفې له تاکل سوو اصولو سره سم عملي سي.


| شمېره | د جنس نوم | د گمرکي تعرفې پخوانۍ سلنه | اوسنۍ ټاکل سوې تعرفه |
|---|---|---|---|
| ۱ | چاکلېټ | ۲۰ سلنه | ۳۰ سلنه |
| ۲ | بيسکوټ | ۱٦ سلنه | ۳۰ سلنه |
| ۳ | کيک او کلچې | ۲۰ سلنه | ۳۰ سلنه |
| ۴ | سپوس | ۵ سلنه | ۸ سلنه |
| ۵ | ژلېټ | ۱۰ سلنه | ۱۲ سلنه |
| ٦ | باد پکه | ۵ سلنه | ٦،۵ سلنه |
| ۷ | (د ډبرو تصفيه سوي سکاره (صادراتي) | ۵ سلنه | ۱ سلنه |
| ۸ | باډي سپرې | ۱٦ سلنه | ۱۲ سلنه |
| ۹ | تغليظ سوي شيدې | ۱۰ سلنه | ۳۰ سلنه |
| ۱۰ | آش | ۱۰ سلنه | ۲۰ سلنه |

د دې تر څنگ د هندوانې عادي گمرکي تعرفه (۴۰) سلنه وټاکل سوه او موسمي تعرفه ئې له (٦٠) سلني څخه (۸۰) سلني ته لوړه سوه، چې موسمي وخت ئې د غويي (ثور) مياشتي له (۱۵مي) نېټې څخه، د لیندۍ (قوس) مياشتي تر پايه وټاکل سو. همدارنگه په سوداگريزو چارو کې د لا اسانتياوو په موخه، د يو شمېر اجناسو له پاره د تعرفې ملي کوډونو په جوړېدو هم پرېکړه وسوه.




# د ماليې وزارت له لوري ۱۰ قوانين او ۱۴۷ حقوقي دوسيې څېړل سوي او تائيدي سوي دي

ماليې وزارت ته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د نهمي گڼې فرمان پر بنسټ، د دغه وزارت د حقوقي بورډ (مجلس) رياست په مشرۍ يوه کمېټه جوړه سوې ده، چې په ياده کمېټه کې د فقهي متخصصين، قانون پوهان او د اړوندو رياستونو مسلکي غړې شتون لري؛ ترڅو د ماليې وزارت اړوند قوانين د اسلامي شريعت او ملي گټو په رڼا کې، تسويد او فقهي تخريج ئې وکړي. پر همدې بنسټ، د ماليې وزارت د حقوقي بورډ رياست، چې دغه وزارت ته د راغلو حقوقي قضيو په حلولو کې بنسټيز رول لري، په (۱۴۰۲هـ.ل) کال کې پر (۱۰) قوانينو، (۴۱) هوکړه ليکونو او (۱۴۷) دوسيو باندي حقوقي او شرعي نظر ورکړی دئ او حل کړي ئې دي. د حقوقي بورډ په مشرۍ، جوړې سوي کمېټې په (۱۴۰۲) مالي کال کې، (۱۰) قوانين تر بحث او غور لاندې نيولي، چې له هغې جملې څخه د باقياتو د تحصيل قانون، د ليلام قانون، د تکافل قانون، د امارتي شرکتونو قانون، د گمرکاتو قانون، د مالي چارو او عامه لگښتونو د اداره کولو قانون، د صکوکو قانون، د مالياتي چارو اداري قانون، پر ماليات باندي د عايداتو قانون او د غيري مالياتي عوايدو قانون شامل دئ، چې فقهي تخريج ئې ترسره سوی دئ او د ياد فرمان پر بنسټ، د تحقيق او تدقيق په موخه د عدليې وزارت ته استول سوي دي.



د عدليې په وزارت کې د گډو ناستو په پايله کې (۷) قوانين وروستيو مراحلو ته رسېدلي او له ټاکلي سوي کمېسيون سره شريک سوي، چې د کمېسيون له لوري، د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) مقام ته د نورو اجراآتو په موخه استول سوي دي.




د ماليې وزارت د پاليسۍ معين د ايران هيواد د مرکزي بانک او سوداگرۍ چارو له مسؤلينو سره وکتل

م ۲




د گمرکونو او عوايدو معين د مس عينک کان د کيندني او پروسيس کمپنۍ له رئيس سره وکتل

م ۲




د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت په بېلابېلو برخو کې د مراجعينو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کړې

م ۲



د ولايتي گمرکونو د بيې ايښودنې، تعرفې او لابراتوارونو د برخې له مسؤلينو سره انلاين ناسته وسوه

م ۲



ثبات قیم محور کنترول نوسانات نرخ ارز بر عملکرد اقلام صادراتی در افغانستان

م ۳




افغانستان د هوايي دهلېز له لارې د (١٤٥) میلیونو امریکايي ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي دي

م ٤

شتمنى
SHTAMANI
اوونيزه

## د ولايتي گمرکونو د بيي اېښودني، تعرفې او لابراتوارونو د برخي له مسؤلينو سره انلاين ناسته وسوه



د گمرکونو لوی رياست عملياتي مرستيال نقيب الله عابد په مشرۍ د ولايتي گمرکونو د بيي اېښودني، تعرفې او لابراتوارونو د برخي له مسؤلينو سره د ويډيو کنفرانس له لاري ناسته وسوه. په دې ناسته کي، چي د بيي اېښودني رئيس، د تعرفې او د بيې اېښودنې آمرينو او يو شمېر نورو اړوندو کارکوونکو هم گډون کړی وو، په ولايتي گمرکونو کي د بيي اېښودني، تعرفې او لابراتوارونو په برخه کي پر شته ستونزو او حل لارو، په سمه توگه د بيي اېښودني له مېتودونو څخه پر گټې اخيستني، په کاري ساحه کي د درو واړو برخو د مسؤلينو تر منځ په پوره همغږۍ او د يو شمېر نورو موضوعاتو په تړاو بحث او د نظرونو تبادله وسوه. د ولايتي گمرکونو د بيي اېښودني، تعرفې او لابراتوارونو د برخي مسؤلينو په خپل وار سره په اړوندو چارو کي خپلي سته ستونزي شريکي کړې، چي د گمرکونو لوی رياست د علمياتي مرستيال او نورو مسؤلينو له لوري د ژر حل کېدو ډاډ ورکړل سو.

## د کندهار گمرک رئيس د دې ولايت له يو شمېر سوداگرو سره وکتل



د کندهار ولايت د گمرک رئيس الحاج مولوي سفر محمد سحر د کندهار د سوداگرۍ او پانگوني خوني د رئيس محمد صديق مهمند په شتون کي د ياد ولايت د وچو مېوو د سوداگرو ټولني له رئيس او غړو سره د گمرک په رياست کي وکتل. په دغه کتنه کي، چي د گمرک آمرينو او د سوداگرۍ او پانگوني خوني مرستيال هم شتون درلود؛ دواړو لوريو د وچو او تازه مېوو او ريحانو پر سوداگرۍ، د قاچاقي توکو پر مخنيوي او د ځينو اقلامو پر تعرفې بحث او خبري وکړې. يادو سوداگرو په گمرکي چارو کي د لازمو اسانتياوو د رامنځته کېدو په برخه کي د کندهار گمرک له رئيس څخه مننه وکړه او په هيواد کي ئې د سوداگرۍ د لا ودې په موخه خپلي مشورې هم شريکي کړې. د کندهار ولايت د گمرک رئيس له دوی څخه د منني تر څنگ د لا روڼتيا او اسانتياوو د رامنځته کېدو له پاره د سوداگرو او گمرک د مسؤلينو تر منځ پر لازمي همغږۍ ټينگار وکړ او دوی ته ئې ډاډ ورکړ، چي ټولو ستونزو ته به ئې پر خپل وخت رسېدنه وسي.

## د ماليې وزارت د پاليسۍ معين د ايران هيواد د مرکزي بانک او سوداگرۍ چارو له مسؤلينو سره وکتل



د ماليې وزارت د پاليسۍ معين انجنير سلطان محمد زبير د ايران اسلامي جمهوريت د مرکزي بانک د نړيوالو اړيکو له مرستيال ډاکټر محسن کريمي او د دغه هيواد د سوداگرۍ او خزانه دارۍ برخي له مسؤلينو سره وکتل او د دواړو هيوادونو ترمنځ، په مالي او اقتصادي برخو کي د دوه اړخيزو اړيکو پر پراختيا ئې خبري وکړې. په پيل کي د ماليې وزارت د پاليسۍ معين، د ايران هيواد څخه راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنگ، افغانستان او ايران دوه ښه گاونډيان ياد کړل او د دوه اړخيزو، مالي او اقتصادي اړيکو د پراختيا په برخه کي ئې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ. د ايران اسلامي جمهوريت د مرکزي بانک مرستيال، د افغانستان اسلامي امارت د پراخي اقتصاد محوره پاليسۍ د ستايني ترڅنگ د دواړو هيوادونو ترمنځ د مالي او اقتصادي اړيکو پر لا پراختيا ټينگار وکړ او له افغانستان سره ئې د بانکي سکتور په برخه کي د هر ډول همکارۍ ډاډ څرگند کړ. ښاغلي کريمي همدا راز ايران هيواد ته د افغانستان له لوري، يو پلاوي ته د رسمي سفر کولو بلنه هم ورکړه. په پای کي د ماليې وزارت د پاليسۍ معين يادونه وکړه، چي په تېر (۱۴۰۲) مالي کال کي د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزرا اقتصادي مرستيال په مشرۍ يو پلاوي ايران هيواد ته د رسمي سفر په لړ کي، د دواړو هيوادونو ترمنځ پر يو شمېر مهمو موضوعاتو خبري او هوکړې وسوې؛ چي د يادو موضوعاتو په عملي کېدلو سره به، د دواړو هيوادونو مالي، سوداگريزي او اقتصادي اړيکي لا پراختيا ومومي.

## د گمرکونو او عوايدو معين د مس عينک کان د کيندني او پروسيس کمپنۍ له رئيس سره وکتل



د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين ملا عبدالقاهر (حاجي ادريس) په خپل کاري دفتر کي د مس عينک کان د کيندني او پروسيس کمپنۍ له رئيس (Song Wenbing) او مل پلاوي سره وکتل. په دغه کتنه کي دواړو خواوو، د مس عينک کان کيندني د قرارداد پر مالياتي مسايلو، د پروژې د پراختيا په مرحله کي د گمرکي عوارضو پر معافيت، په گمرکي پړاوونو کي د اسانتياوو پر رامنځته کېدو او يو شمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث او خبري وکړې. د گمرکونو او عوايدو معين د مس عينک کان د کيندني او پروسيس کمپنۍ رئيس ته ډاډ ورکړ، چي شته امکاناتو ته په کتو به له ټاکل سوو اصولو سره سم، د يادو موضوعاتو د حل په برخه کي پوره همکاري وکړي.

## د گمرکونو د ساتني او ځانگړو عملياتو تنفيذي قطعې د گرځنده څارني کارکوونکو پر لا ځيرکتيا ټينگار وسو

د ماليې وزارت د ساتني او ځانگړو عملياتو تنفيذي قطعې د مرکزي مسؤلينو له لوري په ولايتونو کي د گرځنده څارني (مراقبت سيار) امنيتي ټوليو او مفرزو له مسؤلينو سره انلاين، ويډيويي ناسته وسوه. په دغه ناسته کي د قطعې مرکزي مسؤلينو د چارو د لا ښه پرمختگ په موخه، د ولايتي گمرکونو د گرځنده څارني مسؤلينو ته په اړوندو چارو کي د پوره ځيرکتيا، د قاچاق او غير محصولي توکو د مخنيوي، د گمرکونو او نورو مسؤلينو سره د ښه چلند، د اطاعت پذيرۍ د کچي لوړولو او نورو ورځنيو چارو په تړاو مهمي لارښووني او هدايات وسول او ولايتي مسؤلين مکلف وبلل سول، چي پر ټاکلي وخت د خپلو چارو منظم راپور له مرکز سره شريک کړي. همدا راز د ولايتي مسؤلينو د اړوندي برخي ستونزي او وړانديزونه هم واورېدل سول، چي د حل په موخه به ئې اړين اقدامات ترسره سي.

## د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت په بېلابېلو برخو کي د مراجعينو ستونزو او شکايتونو ته رسېدنه کړې

د ماليې وزارت د هيواد يو له مهمو وزارتونو څخه شمېرل کېږي او په ملي کچه مهمي مالي چاري ترسره کوي، چي په ورځني ډول سلگونه هيوادوال په اړوندو برخو کي د خپلو چارو د ترسره کولو په موخه دغه وزارت ته مراجعه کوي. په ماليې وزارت کي د مراجعينو د ستونزو او شکايتونو د اورېدلو او هغو ته د پر وخت رسېدني او حل کولو په موخه د شکايتونو اورېدلو خپلواک آمريت شتون لري، چي د وزارت په اړوندو برخو کي د مراجعينو ستونزي او شکايتونه څېړي او د حل په موخه ئې د وزارت له مقام سره شريکوي. د شکايتونو اورېدلو له خپلواک آمريت سره په (۱۴۰۲) مالي کال کي د مراجعينو له لوري په بېلابېلو لکه: تداركاتي، مالي، منفکي، د املاکو او اړوندو نورو برخو کي لسگونه شکايتونو شريک سوي دي، چي له جملې ئې (۵۰) مهم شکايتونه څېړل سوي او (۱۸) شکايتونو ته رسېدنه سوې ده، چي د شکايت کوونکو بشپړ رضايت حاصل سوی دئ. د ماليې وزارت د چارو په تړاو هر مراجعه کوونکي هيوادوال، چي غواړي خپل شکايت ثبت کړي، کولای سي ياد آمريت ته مراجعه وکړي او ټاکل سوې فورمه ډکه کړي او يا هم د اړيکو د دغه شمېرو او برېښناليک له لاري خپل شکايت ثبت کړي.

ټيليفون او واټساپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷٤۵۷٦۵۷۵٦ (۹۳+)

برېښناليک: officialcomplaints@mof.gov.af



# ثبات قیم محور کنترول نوسانات نرخ ارز بر عملکرد اقلام صادراتی در افغانستان

دوکتور محمد اکبر نادرپور
آمر ارتباطات استراتیژیک با تمویل کنند گان، وزارت مالیه

محور اصلی ثبات اقتصادی در افغانستان مدیریت بازار ارز، سیاست گذاری در تأمین بازگشت ثبات اقتصادی، تقویت ابزار های نظارتی برای بازگشت ارز، کاهش نرخ ارز و افزایش آن بدوش بانک مرکزی به عنوان محور چرخش فعالیت های اقتصادی، پولی و ارزی بوده که توجه همگان را بحیث کنترول کنندۀ نوسانات نرخ ارز و بازگشت ثبات اقتصادی کشور تحت تأثیر قرار میدهد. از اینرو نوسانات قیم میتواندر بعضی اوقات خبر خوب بر فعالیت های تجارتی و فعالیت های تولیدی تلقی شود، باعث تشویق و دلگرمی سرمایه گذاران داخلی و بین المللی فعالیت های اقتصادی در کشور گردد، در غیر آن برعکس تفسیر میگردد. نقش بانک مرکزی در سیاستگذاری های ثبات بازار های داخلی، میتواند عامل تعین کنندۀ ثبات قیم بطور دائمی در کشور گردد، همچنین می تواند تحولات موثر را در سیاست های کلان اقتصادی، با اصلاح مقررات بانکی، ثبات اقتصادی با تشویق اقلام صادراتی و بازگرداند ارز خارجی، قیم داخلی و نوسانات نرخ ارز را بر تحول کلیدی در اقتصاد کشور تبدیل نموده و بر اهمیت عوامل اقتصادی و مؤثریت آن در آینده تاکید نماید. در شرایط فعلی که افغانستان به آن روبرو است، با ایجاد پروژه های زیر بنایی، صادرات محصولات مختلف



تجارتی، واردات ارز خارجی، می تواند به حیث یک فکتور عمده و اساسی به چرخه فعالیت های اقتصادی جهت تأمین مالی مورد نیاز برای کالا ها و خدمات داخلی و آزاد سازی مبالغ منجمد شدۀ افغانستان، یک اقدام با ابتکار از جانب بانک مرکزی و از بین بردن تحریم های بانکی و ارزی بر محوریت فعالیت های اقتصادی و به کارگیری ابزار های مختلف اقتصادی، مبالغ بلاک شدۀ افغانستان را آزاد و تحریم بانکی را مهار و ثبات قیم داخلی را در راستای فعالیت های اقتصادی مدیریت نماید. تغییر در دیپلماسی اقتصادی و ایجاد توسعه روابط اقتصادی با کشور های جهان و منطقه می تواند گسترش تعاملات و مبادلات تجارتی را در راستای دالر زدایی با همکاری دستگاه دیپلماسی قوی از طریق تفاهمنامه های دو جانبه و چند جانبه، فعالیت های بیشتر ی را جهت وابستگی کشور به ارز خارجی و استفاده کم از ارز خارجی در داخل کشور،آغازگر یک تحول منطقوی و بین المللی به هدف کاهش دالر در مبادلات داخلی و استفاده ارز داخلی در مبادلات تجارتی داخلی باشد، این برنامه می تواند گامی مؤثر برای ثبات سیاسی، اقتصادی و گسترش ثبات قیم ملی در افغانستان بر محوریت بانک مرکزی در راستای عملکرد افزایش اقلام صادراتی و تورید ارز خارجی در معاملات بین المللی و تجارتی باشد.

تجارب معاملات تجارتی نشان داده است که ثبات قیم علمکرد اقلام صاداراتی در ساختن فردای اقتصاد یک کشور نقش سازندۀ را برای بقای فعالیت های انکشافی و توسعه فعالیت اقتصادی داشته است. سرمایه گذاری های بزرگ داخلی و خارجی میتواند تبدیل به یک قوۀ اقتصادی و تغییرات ثبات ارزی داخلی، بازگشت ثبات قیم داخلی برای کنترول نوسانا و اقدام پیشگرانه برای فردای روشن در کشور باشد. نتایج بدست آمده ما نشان میدهد، که عملکرد اقلام صادراتی افغانستان طی سال ۱۴۰۲ نسبت به سال ۱۴۰۱ یک رقم بیشتر افزایش را در خود داشته که خیلی از محصولات تولید شده افغانستان که دارای کیفیت بالا و پتانسیل خوب صادراتی بوده و بازار های منطقوی را به خود جلب نموده و این عمل باعث ثبات قیم داخلی در برابر ارز خارجی شده است. در اقتصاد ملی ثبات قیم محور اصلی ثبات سیاسی، ثبات اقتصادی، ثبات اجتماعی و مدیریت هرسه محور بوده هر کشور برای رسیدن به آرزوی دیرینه اش تلاش می نماید تا بی ثباتی اقتصادی را کنار گذاشته و نقش سازندۀ دائمی را برای از بین بردن فقر و تنگ دستی برای همیشه و داع گفته و حفظ ثبات قیم و ثبات اقتصادی را برای رسیدن به هدف نهای انکشاف متوازن در جامعه میباشد نایل آید.

# اعلانات داوطلبی

### د کابل ښاروالۍ ۳ مي ناحیې اړوند کوټه سنگي کي د نظیف مارکېټ (۱۱) بابه دوکانونو د داوطلبۍ خبرتیا

د ماليې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چي د کابل ښاروالۍ دریمي ناحیې کوټه سنگي کي د نظیف مارکېټ اړوند (۱۱) بابه دوکانونه په جلاجلا ډول د داوطلبۍ له لاري اعلان ته وړاندي کړي.
۱- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۵۱-۵۲ نمبر دوکان، چي ۳۶ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۲- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۹۳-۹٤ نمبر دوکان، چي ۳۶ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۳- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۹۵-۹٦ نمبر دوکان، چي ۳۶ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۸۰۰۰) افغانۍ ده.
۴ - د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۱٤ نمبر دوکان، چي ۱۱.۱ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۳۵۰۰) افغانۍ ده.
۵- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۱۵ نمبر دوکان، چي ۲.۸۹ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۰۰۰) افغانۍ ده.
٦- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۱٦ نمبر دوکان، چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۵۰۰) افغانۍ ده.
۷- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۱۷ نمبر دوکان، چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۵۰۰) افغانۍ ده.
۸ - د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۱۹ نمبر دوکان، چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۵۰۰) افغانۍ ده.
۹ - د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۲۱ نمبر دوکان، چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۵۰۰) افغانۍ ده.
۱۰- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۲۳ نمبر دوکان، چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۵۰۰) افغانۍ ده.
۱۱- د نظیف مارکېټ اړوند، یو باب A۱۲۵ نمبر دوکان، چي ۱۵ متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدايي کرایه ئې (۴۵۰۰) افغانۍ ده.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ۳٤,۵۱۵۲۷۲-٦۹,۱۱۷٤٦
هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي دوکانونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (ثور/۲۳ /۱۴۰۳) څخه وروسته تر (جوزا / ۱۲/ ۱۴۰۳) پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.
آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (۵) پوړ، د مرکزي تړونونو د ارزوني لوی مدیریت.
د داوطلبۍ مجلس: د (جوزا /۱۳ /۱۴۰۳) نېټه، د ماسپښین ۱۰:۳۰ بجې ترسره کېږي.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷- ۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

### اعلان داوطلبی (۱۰) باب دوکاکین واقع مندوی مربوط ظاهر شاهی مارکیت

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه به تعداد(۱۰) باب دوکاکین ذیل واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت مربوط ناحیه اول شارولی کابل را طور جداگانه از طریق پروسه داوطلبی به شکل آفر سربسته به اعلان می سپارد.
۱. یکباب دوکان نمبر۱ به مساحت ٦,٤۸ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ ( ۱٤٦٤٤) افغانی.
۲.یکباب دوکان نمبر۲ به مساحت ۷,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۵۵۵۷,۸۵ ) افغانی.
۳. یکباب دوکان نمبر۳ به مساحت۷,۰۲مترمربع واقع مندوی کابل طاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱٦۳۹۷,۸۵) افغانی.
٤. یکباب دوکان نمبر٤ به مساحت ۷,۰۲مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۵۵۵۷,۸۵) افغانی.
۵. یکباب دوکان نمبر۵ به مساحت۷,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۳۳۰۲) افغانی.
٦.یکباب دوکان نمبر٦ به مساحت۷,۰۲مترمربع واقع مندوی کابل ظاهرشاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱۵٦۱۷) افغانی.
۷. یکباب دوکان نمبر۷ به مساحت ۷,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ( ۱٦۳۹۷,۸۵) افغانی.
۸.یکباب دوکان نمبر۸ به مساحت۷,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۵٦۱۷) افغانی.
۹. یکباب دوکان نمبر۹ به مساحت۷,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۵٦۱۷) افغانی.
۱۰.یکباب دوکان نمبر۱۰ به مساحت ۷,۰۲ مترمربع واقع مندوی کابل ظاهر شاهی مارکیت به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ(۱۵۵۵۷,۸۵) افغانی.
کوردینات(جی.پی.اس نمبر) ٦۹,۱۷۷۵٦,۳٤,۵۱۷۱
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشند میتوانند در خواست های شان را بعد از تاریخ ۲۰ثور/ ۱۴۰۳ الی ۹/جوزا / ۱۴۰۳ به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده شرطنامه را اخذ نمایند.
آدرس: سینما پامیر تعمیر ۱٤منزله، منزل۵، مدیریت عمومی ارزیابی قراردادهای مرکز
شماره تماس (-۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷-۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤)
تاریخ مجلس آفرگشایی ۱۰ / جوزا / ۱۴۰۳ به ساعت(۱:۳۰) بعد از ظهر برگزار میگردد.

### اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء (تدارک ۳۸ قلم قرطاسیه ضرورت شعبات مرکزی وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه (MOF/۱٤۰۳/ NCB/G-۰۲۵) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش یا میموری از آدرس ذیل که مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۰٦/ جوزا/۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۵/ جوزا /۱٤۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۱۵۰،۰۰۰ (یک صدو پنجاه هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦

### د داوطلبۍ خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ماليې وزارت مرکزي دفترونو د اړتیا وړ ۳۸ قلمه قرطاسيې) په پروژه کي، چي تشخیصیه نمبر ئې (MOF/۱٤۰۳//NCB/G-۰۲۵) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کیږي، برخه واخلي او شرطپاڼه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼې له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي ادرسونو څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلي نېټه: د ( جوزا/ ٦مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (جوزا /۱۵/ ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمین: یو سل او پنځوس زره (۱۵۰۰۰۰) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت.
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦
په ځنډ رسېدلي او انټرنيټي افرونه د منلو وړ نه دي.



ویبسایټ: mof.gov.af
ایکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمیره : ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

شتمنی SHTAMANI اوونیزه




# MoF Reviews, Approves 10 laws, 147 Legal Files

On the basis of the ninth decree of H H Amirul Momineen (may Allah protect him) to the MoF, a committee has been formed under the leadership of the Directorate of Legal Board of MoF, which jurisprudence experts, lawyers and professional members of relevant directorates have attended. The committee was to review and make a rough draft of the laws related to the Mof in the light of 'Islamic Sharia' and 'national interests' jurisprudentially. In accordance with the issue, the Directorate of Legal Board of MoF, which has a fundamental role in resolving the legal cases brought to this Ministry, gave legal and sharia-based opinion for resolving 10 laws, 41 resolutions and 147 legal files/ dossiers in 1402H. Under the chairmanship of the legal board, the committee formed in the FY1402 discussed and considered 10 laws, among which the law of acquisition of remains, the law of auction, the law of takaful, the law of IEA-owned corporations, the law of customs, the law of managing financial affairs & public expenditure, the law of Sukuk, the law of tax administration, Tax Revenue Law and Non-Tax Revenue Law that have been legally reviewed. On the basis of this decree, they have been submitted to the Ministry of Justice (MoJ) for the purpose of disquisition and verification. As a result of joint meetings in the MoJ, seven laws have reached the final stages and have been shared with the appointed commission, which have been submitted by the commission to the High Authority of H H Amirul Momineen (may Allah protect him) for further actions.

## 'Tariff Committee' Makes Important Decisions Regarding Tariffs of Goods As IEA Values Domestic Products

The first session of the 'Tariff Committee' of current FY1403 was held in the meeting hall of DM for Customs and Revenue under the chairmanship of Mullah Abdul Qahir Haji Idris, Deputy Minister of Customs and Revenue of MoF.

At the beginning of the meeting, the officials of Directorate of Tariff presented a comprehensive analysis of the demands of the traders and industrialists regarding the below-mentioned items, and the members of the 'Tariff Committee' held a comprehensive technical discussion on the tariff of some items.

The committee has made the following decisions considering the principle of supporting domestic production, business development and increasing state-revenues, which will be implemented according to the principles of tariff after the approval of the Minister of Finance.

| NO | ITEM | PERCENTAGE OF PREVIOUS CUSTOMS TARIFF | NEW TARIFF |
|---|---|---|---|
| 1. | Chocolate | 20% | 30% |
| 2. | Biscuit | 16% | 30% |
| 3. | Cake & Cookies | 20% | 30% |
| 4. | Husk | 5% | 8% |
| 5. | Gillette | 10% | 12% |
| 6. | Fan | 5% | 6.5% |
| 7. | Rectified Coal (for export) | 5% | 1% |
| 8. | Body Spray | 16% | 12% |
| 9. | Concentrated/ Condensed Milk | 10% | 30% |
| 10. | Noodle | 10% | 20% |

Additionally, the normal customs tariff of watermelon was set at 40% and the seasonal tariff was hiked from 60% up to 80% that the seasonal time estimated from 15th of Sawar until the end of the month of Qaws. Likewise, it was also decided to create 'National Tariff Codes' for numerous goods and commodities due to facilitate trading.




## افغانستان د هوايي دهلېز له لارې د (۱٤٥) میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي دي




د چین شینوا – Xinhua خبري اژانس دا ځل د افغانستان د هوايي دهلېز خوا ته پام اړولی دئ او د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت په حواله کاږي، چي افغانستان په (۱٤۰۲)ل ل کال کي، چي وايي له (۲۱/ مارچ/ ۲۰۲۳ — ۱۹/ مارچ/ ۲۰۲۴)ز سره سمون لري، د هوايي دهلېز له لارې د (۱٤٥) میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت توکي صادر کړي دي. راپور کاږي، چي د دې سوداګریزو توکو مقدار (۲٤۷) ټنو ته رسیږي، چي په کښې انجه/ هنجه، زعفران، وچې او تازه مېوې، قیمتي او نیمه قیمتي ډبري، ټوکر، نخود، غالۍ، د پخلنځي سامان، او له بزې (وزې) او غواوو څخه ځیني محصولات شامل دي.

د شینوا خبري اژانس دا سوداګریز راپور د صنعت او سوداګرۍ د ویاند ښاغلي اخوندزاده عبدالسلام جواد له خولې لیکي، چي د هوايي دهلېز له لارې دا سوداګریز مالونه و «هندوستان، متحده عربي اماراتو، ترکیې، ایران، ازبکستان، المان/ جرمني او کاناډا» ته صادر سوي دي.

متن د مجموعي صادراتو رقمي ارزښت هم یاد کړی دئ او وايي، د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو په اساس په (۱٤۰۲)ل ل کال کي د افغانستان ټول صادرات (۱,۸۱) بیلیون/ میلیارډ امریکایي ډالره اټکل سوي ول.

## Deputy Minister of Customs, Revenues Meets with Director of Mes Aynak Mining, Processing Company

Deputy Minister of Customs and Revenues of MoF, Mullah Abdul Qahir (aka Haji Idris) has met with the Director of Mes Aynak mining and processing company, Song Wenbing and his delegation at DM for Customs and Revenues. In this meeting, both sides have discussed the financial issues of the Mes Aynak mining contract, the exemption of customs duties/ charges during the development phase of the project, the provision of facilities amidst the customs phases and a number of other relevant issues as well.

Hon. Mullah Abdul Qahir assured the Director of Mes Aynak mining and processing company regarding fully cooperation in the solution of the mentioned issues in accordance with available possibilities and principles.